| | |
|---|---|
| **جمهورية مصر العربية** | **غرة ذي الحجة ١٤٤٠هـ** |
| **وزارة الأوقاف** **لغة البشتو** | **٢ اغسطس ٢٠١٩م** |

(١)

## د طاعتونو عبادتونو او د ښيګڼو د وختونو غنيمت شميرل

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« وَسَارِعُوٓا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَٰوٰتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ*الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِى السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ وَالْكَٰظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ»** ژباړه: **« پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ چې ستاسي د پروردګار د بښني او د هغه جنت خوا ته تللې ده، چې هغه (جنت) لکه د اسمانونو او ځمکي په شان پراخ دی، او هغه د هغو خداېه وېرېدونکيو خلکو لپاره تيار کړای شويدی؛ * د هغو لپاره چې د بډايۍ او بيوزلی په دواړو حالاتو کښي مال مصرفوي، د غوسي زغمونکي دي او د نورو لنډ پاري بخښي. داسي نېکان خلك د خدای ډېر خوښ دي؛»**، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

يقينا الله جل جلاله په زمانوکې داسی وضعي ځانګړي کړيدي او داسی وختونه پکې شته چې نيکي پکي دوچنده کيږي اوهمدارنګه ښيګڼي پکي زياتيږي او درجي پکې لوړيږي ترڅو خپل بندګان ديته وهڅوي چې هميشه الله جل جلاله ته ځان نږدی کړي او په ښه ډول ددغو ورځو هرکلي وکړي اوعقل مند هغه څوک دی چې ددغو ورځو څخه ګټه پورته کړي خپل نيت ځانګړی کړي اوښه عملونه پکې وکړي او همدارنګه الله جل جلاله ته ځان نږدی کړي خيراو ښيګڼي کارونه ترسره کړيترڅود الله

جل جلاله د رحمت څخه برخمن شي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی:یقینا ستاسو درب ستاسو په زمانو کې داسی ورځي شته چې د رحمت ورځي دي نو تاسو هغه ته ځان چمتو کړی ښایي په تاسو کې یو چاته د الله جل جلاله رحمت ورسیږي او بیا هیڅکله هغه نه بدبخته کیږي.
بی له شکه چې مونږ پدغو ورځو کې ژوند کوو چې د لوي اجر شپې او ورځي دي او همدارنګه د نیکیو اندازه ډیره لوړه ده ځکه الله جل جلاله پدغو ورځو کې د نیکو کارونو ثواب زیات کړی دی او همدارنګه پدي ورځو کي د نورو ورځو په نسبت اجر الله جل جلاله ډیر ورکوي دا نیکي او مبارکي ورځي دي او غوره وختونه دي ځکه چې الله جل جلاله ددغو ورځو مرتبه او شان لوړ کړي دی او همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددی مرتبه او فضیلت بیان کړی دی چې لدی جملي څخه په لاندی ډول تاسو ته وړاندی کوو:
الله جل جلاله پخپل کتاب کې پدغو ورځو باندي قسم خوړلي لکه چې فرمایي:« **وَالْفَجْرِ*وَلَيَالٍ عَشْرٍ*وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ» ژباړه:« قسم په سهار دی؛*او (قسم دی) په لسو شپو؛*او (قسم دی) په جفت او طاق؛»**
جمهور مفسرین پدي آند باندي دي چې ددغو لسو شپو څخه مقصد د ذوالحجي لومړني لس شپې دي یقینا الله جل جلاله قسم په یو څه باندي نه خوري مګر پداسي یو څه باندي خوري چې هغه لوي وي ځکه چې د هغه لپاره په هغه باندي قسم خوړل یو ډول عزت او د هغه د مرتبي د لوړوالي ښودنه کوي او همدارنګه د هغه د شان او د فضیلت او د اهمیت ښودنه کوي.
ددغي ورځو د فضیلت د جملي څخه بل هم دادي چې دا هغه ورځي دي چې معلومي ورځي دي چې الله جل جلاله د هغه ذکر په قرانکریم کي کړي دی لکه چې فرمایي:« **يَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ» ژباړه:« په هغو څاروېو باندي د الله نوم واخلي چې هغه ورته په برخه کړیدي (پدغو بېلابېلو لارو کښې هدف هماغه یو دی»** دا هغه

ورځي دي چې مسلمان پدي کې بنستيز عبادتونه لکه لمونځ صدقه روژه حج او ځيني نور ترسره کوي چې د نورو ورځو په نسبت پدي کې ددي ثواب ډير زيات دی.
او ددی د فضيلتونو د جملي څخه بل هم دادی چې الله جل جلاله ته ډير خوښي ورځي همدا ورځي دي او هغه نيک کار چې پدغو ورځو کې ترسره کيږي الله جل جلاله ته د نورو ورځو په نسبت باندي پدي ورځو کې ډير خوښ وي همدارنګه دا د ګټي او د دوزخ د اور څخه د خلاصون شپي او ورځي دي او د ښيګڼو د سرته رسولو لپاره بايد ګټه تري پورته شي لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: نيک کارونه د الله جل جلاله په نسبت پدغو ورځو کې ډير خوښ دي يعني مقصد يی همدا د ذوالحجه لومړني لسي شپي او ورځي دي پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته وويل شو چې اي د الله رسوله د الله په لاره کې د جهاد څخه هم ډير فضيلت لري؟ وی فرمايل: هو، د الله جل جلاله په لاره کې د جهاد څخه هم ډير فضيلت لري مګر هغه څوک چې جهاد ته خپله هم وځي او خپل مال هم ولږوي او بيا هيڅ له ځانه سره رانوړي او ټول د الله په لاره کې مصرف کړي نو له همدی لپاره هر مسلمان ته لازمه ده چې ددغه لوي فضيلت او لوي اجر څخه ګټه پورته کړي او الله جل جلاله ته په بيلابيلو عبادتونواو طاعتونو سره ځان نږدي کړي.
الله جل جلاله ته په اعمالو او نيکو کارونو کې ډير خوښ پدغه شپو او ورځو کې د بيت الله شريف حج دی البته د هغه چا لپاره چې توان يی ولري لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« **الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَٰتٌ ۚ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِى الْحَجِّ ۗ** » ژباړه:« **د حج مياشتي ټولو ته څرګندي دي، څوك چې په دې ټاكليو مياشتو كښي د حج نيت وكړي، هغه بايد په دې خبر اوسي چې د حج په دوران كې له هغه څخه څه شهواني عمل، څه ناوړه فعل او څه جنګ جګړه و نه شي.»**
حج د اسلام د ارکانو څخه پنځم رکن ګڼل کيږي چې پدي سره ټولي چاري

بشپړېږي او ګناهونه معاف کیږي او بنده لپآره دومره نیکي لیږل کیږي چې ګویا دا نوی پیدا شوی وي لکه چې نبي کریم  صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې حج وکړي او په هغه کې فسق او فجور ونکړي دی داسی ګرځي چې ګویا د مور څخه نوي پیدا شوی وي.
حج یو لوي فرصت دی ددی لپاره چې د فضیلتونو او د لوړو اخلاقو ساتنه وشي ځکه چې مسلمان پدي کې تربیه کیږي ترڅو الله جل جلاله ته پرهیزګاری وکړي او د خپل د نفس شهوتونه او غریزي لمنځه یوسي اوهمدارنګه د ښو اخلاقو او د نیکیو لاره غوره کړي پداسی ډول چې نور خلک په ځان غوره کړي نه داسی چې ځان په نورو غوره کوي او همدارنګه انسان دیته چمتو کوي چې غني او عفو کوونکي وسي نه دا چې د نورو څخه سوال او بیځایه مصرف وکړي همدارنګه مسلمان پدي کې دیته متوجه کیږي چې پخپلو ویناو او کړونو کې د دقت څخه کار واخلي او همدارنګه برابره لاره غوره کړي نو حاجی د خپل حج له لاري چې هغه ترسره کوي په هغه باندي دا لازمیږي چې په عملي ډول سره هغه څه په ځان پلي کړي چې اسلام د هغه غوښتنه کړي چې پدي کې اخلاق ارزښتونه راځي، او پداسی ډول سره حاجي د حج د مراسمو څخه ووځي چې ټول اخلاقي او سلوکي کړني یي سمي شوي وي.
مونږ همدارنګه پدي باندي ټینګار کوو چې د حج عبادت د ټول بشریت لپآره د سولي پیغام له ځانه سره لیږدوي ځکه چې حج پخپله بشپړ سلامتیا او سوله ده او همدارنګه امن او برقراري پکي ده ځکه چې حاجي جګړه نکوي له چا سره فسق اوفجورنکوي او همدارنګه ښکار نکوي او همدارنګه وژنه نکوي لکه چې الله جل جلاله فرمایلي دی:« **يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ** » **ژباړه:« اې مؤمنانو! د اِحرام په حالت کښي ښکار مه وژنئ.»** دغه سولییز ژوند یواځي بشریت او حیواناتو پوری اړوند ندی بلکي دا نباتاتو ته هم شاملیږي ځکه چې حاجي ته پدي باندي هم امر شوی دی چې د نباتاتو ساتنه وکړي لکه چې نبي

کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: یقینا دغه هیواد الله جل جلاله حرمت پکي گرځولی دی پداسی ډول سره چې د هغي بوټي به نه پری کیږي او همدارنګه ښکار به نه ترسره کیږي او همدارنګه څه چې پیدا کیږي خپل د خاوند پرته بل څوک واخلي.، بی له شکه پدي کې د مسلمان لپآره تمرین ورکول کیږي ترڅو د هغه چا سره سوله او ارامي غوره کړي چې هغه ته زیان رسوي چې پدی کې بشریت او همدارنګه ونی بوټي کاني دا ټول راځي او وروسته لدي چې د حج څخه راوګرځي باید دا هم په ځان پلي کړي نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته ددی خبر راکړی دی چې واقعي مسلمان هغه دی چې خلک د هغه د ژبي او د لاسونو څخه په امن کې وي لکه چې په خطبة الوداع کې یي فرمایلي دي: آیا زه تاسو ته د مومن مسلمان په هکله خبر درنکړم؟ هغه څوک دی چې خلک د هغه څخه په امن کې وي او خلک د خپلو مالونو او نفسونو کې ددغه انسان څخه په امن کې وي او مسلمان هغه دی چې خلک د هغه د ژبي او د لاس څخه په امن کې وي او مجاهد هغه څوک دی چې د الله جل جلاله په طاعت کې د خپل نفس سره جهاد وکړي او مهاجر هغه څوک دی چې ګناهونه او خطاګاني پریږدي.

د غورو اعمالو څخه چې بنده ته مستحب ده چې باید ترسره کړي ترڅو الله جل جلاله ته پدغو ورځو کې ځان نژدي کړي روژه نیول دي روژه د غوره عبادتونو او د طاعاتو څخه راځي چې ډیری نیکي پری ترلاسه کیږي او الله جل جلاله د روژي اضافت خپل ځانته کړی دی ځکه چې د هغه شان او شوکت ډیر لوي دی لکه چې په حدیث قدسي کې الله جل جلاله فرمایلي دي: د بني آدم هر عمل د هغه لپآره دی مګر روژه ځکه چې دا زما لپاره ده او زه د هغه بدله ورکوم همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې د الله په لاره کې یو ورځ روژه ونیسي الله جل جلاله به د دوزخ د اور څخه هغه وساتي نو د همدی کبله مسلمان لپآره مستحب ده چې د ذوالحجه په نهو شپو او ورځو کې روژه ونیسي او

د خپل توان په اندازي باندی روژي ونيسي ځکه چې  د هغه روژي الله جل جلاله ته ډيرى خوښي دي په ځانګړي توګه د عرفى د ورځي روژه چې د حاجيانو پرته نور مسلمانان به يي نيسي نبي کريم صلى الله عليه وسلم د ذورالحجه په لسو شپو او ورځو کې عرفه د روژي ځانګړتيا بيانه کړی ده لکه چې فرمايي: د عرفى د ورځي روژي بدله داده چې الله جل جلاله د مخکنى کال او د وروستني کال ګناهونه معاف کوي او د عرفي د ورځي روژه د هغو ورځو د جملي څخه ګڼل کيږي چې الله جل جلاله پري خپله شاهدي ويلي ده چي پدي سره د هغه رحمت او همدارنګه بخښنه او همدارنګه د دوزخ د اور څخه خلاصون لامل ګرځي دا هغه ورځ ده چي پدي کې دعاګاني قبليږي او همدارنګه خنډونه لمنځته وړل کيږي او الله جل جلاله پدي ورځ باندي د ځمکي او اسمانونو اوسيدونکو ته بخښنه کوي نبي کريم فرمايلي دي: د عرفي د روځي څخه پرته بل داسي ورځ نشته چې الله جل جلاله بندګان پری د اور څخه آزاد کړي او الله نږدی کيږي او بيا پر ملائکو افتخار کوي، دا هغه ورځ ده چې الله جل جلاله پدی کې دين بشپړ کړی دی او خپل نعمتونه يی بشپړ کړي دي د عمر بن خطاب رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چې يو يهودي ورته وويل چې ای امير المومنينه ستا په کتاب کې داسی يو ايت دی چې لولي که چيرته په مونږ باندي يعني په يهودو باندی دا نازل شوی وی نو ده ورځ به مونږ اختر نيولی وی هغه ورته وويل چې کوم ايت دی هغه ورته وويل چې دا ايت دی (**الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَٰمَ دِينًا ۚ**)ژباړه: (**نن ما ستاسي دين، ستاسي لپاره بشپړ کړ او خپل نعمت مي پر تاسي پوره کړ. او ستاسي لپاره مي اسلام ستاسي د دين په توګه منظور کړ.)** عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل: مونږ دا هماغه ورځ پيژندلی وه او همدارنګه هغه ځاي چې دغه ايت په نبي کريم صلى اله عليه وسلم باندی نازل شوی دی هغه د عرفه او د

جمعي ورځ وه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ولاړ وو او دغه ايت پرې نازل شو.
همدارنګه مسلمان لپآره مستحب دادی چې د الله جل جلاله زيات ذکر وکړي ځکه چې ذکر زړونه راژوندي کوي او اطمئنان رامنځته کوي لکه چې اللهِ جلِ جلاله فرمايي:« **الَّذِينَ ءَامَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ** » ژباړه:« **همدغه (د الله لوري ته ګرځېدونکي) خلكَ هغه كسان دي چي (ددې پېغمبر بلنه ( يې منلې ده او د هغو زړونو ته د الله په ياد سره ډاډينه ور په برخه کيږئ. خبردار اوسئ! همدغه د الله ياد هغه شی دی چي زړونو ته ډاډينه ورپه برخه کوي.** » نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ددغو لسو شپو ورځو ښخه نورى شپې او ورځي الله جل جلاله ته دومره خوښي او همدارنګه لويی ندي چې دغه لسی شپي او ورځي دي نو پدي کې تاسو تکبير حمد ثنا او تسبيح وايی، همدارنګه عمر رضي الله تعالی عنه په منی کې پخپل ځاي کې په لوړ اواز باندی تکبير وويلي نو د جومات خلکو د هغه تکبير واوريدو نو هغوي هم تکبيرونه شروع کړل او همدارنګه د منی د ښار اوسيدونکو هم تکبيرونه شروع کړل تردي چې ټول منی تکبيرونو ونيوله ابن عمر رضي الله تعالی په منی کې پدغه شپو او ورځو کې د لمانځه ښخه وروسته او همدارنګه په بستره کې په مجلس کې په تګ کې او همدارنګه په هر ځاي کې به يي تکبيرونه ويل نو د همدي کبله مسلمان لپآره مستحب دا دي چې پدغه شپو او ورځو کې په لوړو اوازونو تکبيرونه ووايی ترڅو د الله جل جلاله د عظمت اعلان وکړي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي ايا تاسو ته زه د غوره عملونو ښودنه ونکړم چې د هغه درجي ډيری لوړي دي او همدارنګه د الله په نزد پاک او غوره وي، او تاسو ته د سرو او سپينو نه هم غوره وي او د تاسو لپآره ددی ښخه هم غوره دي چې تاسو د دښمن سره مخامخ شی او د هغوي څتونه ووهي او يا دا چې هغوي ستاسو څتونه ووهي نو مونږ ورته وويل هو ولي نه نو

وی فرمایل: د الله جل جلاله ذکر دی.، د معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روایت دی فرمایلي دي د بني آدم هیڅ عمل د الله جل جلاله د عذاب څخه د نجات لامل نشي ګرځیدلی مګر دا چې د الله جل جلاله ذکر وکړی.

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم**

*************

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

د هغو لویو عملونو څخه چې بنده پری الله جل جلاله ته پدغه ورځو کي نژدی کیږي قرباني کول دي دا د الله جل جلاله د شعایرو څخه یو لوی نښه ده او دا د ابراهیم ملت یوه لویه نښه ده او همدارنګه د محمد صلی الله علیه وسلم د سنتو یو لوي دلیل کیدلای ي الله جل جلاله پدي هکله فرمایلي دي:**« ذٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى ٱلْقُلُوبِ » ژباړه:« دغه اصلي موضوع ده (ورباندي پوه شئ) او څوك چې د الله د ټاکلیو شعاېرو درناوی وکړي، نو دا د زړونو له پرهېزګارۍ څخه ده. »** او کله چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړاي شوه چې دغه قرباني څه دي؟ هغه ورته وفرمایل ستاسو د پلار ابراهیم سنت دی او همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه فرمایلي دي:د اختر په ورځ الله جل جلاله ته د بندګانو په عملونو کي ډیر خوښ د قرباني کول دي.

قرباني پخپله د ټولنیز تضامن د شکلونو څخه یو شکل هم ګڼل کیږي چې پدي سره د ټولني د وګړو ترمنځ نږدیوالی مینه او محبت رامنځته کیږي او کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خلکو کې بیوزله ولیدل

نوورته يي وفرمايا څوک چې په تاسو کې قرباني وکړي نو دريمه ورځ پورې د نه پاسيږي پداسې حال کې د هغه په کور کې د قرباني غوښه پاتې وي هر کله چې راتلونکي کال راغي نوبيا صحابه کرامو ورته وفرمايل: چې اې د الله رسله مونږ د تير کال په څير بيا هماغسې عمل وکړو ورته يي وفرمايل: وخوري او همدارنګه وساتي ځکه چې په هغه کال باندې په خلکو کې بيوزلي زياته وه نو ما غوښتل چې تاسو د هغوي سره مرسته وکړي کله چې هوساينه او اسنتيا موجوده وي نوبيا د پيغمبر صلى الله عليه وسلم پدغه حديث باندې عمل کوو چې فرمايي: وخوري صدقه ترې ورکړې، او همدارنګه وې ساتې او کله چې په خلکو اندې مشقت وي او هغوي ديته ډير اړتيا ولري نو بيا د پيغمبر صلى الله عليه وسلم پدغه حديث باندې عمل کوو چې فرمايلي دي: څوک چې په تاسو کې قرباني وکړي نو دريمه ورځ دې نه پاسيږي پداسې حال کې چې د هغه په کور د قرباني غوښه موجوده وي.
بايد پدې باندې ځان پوه کړو لکه څنګه چې قرباني په حلاله سره ثابتيږي همداسې د بانک له لارې د چک د اخيستلو سره هم ترسره کيږي او بې له شکه پدې کې د قرباني لوي ګټه او ثواب رامنځته کيږي په ځانګړي توګه د هغه چا لپآره چې د ويشلو سمې توکي ونلري، او د چکونو له لارې اصلي مستحقينو ته رسيږي، او په نتيجه کې د قرباني ثواب ډير او لويوي او همداسې د خير رسونه مستحقينو ته په عزتمندانه او شرافتمندانه ډول سره ترسره کيږي، او څنګه ښه به وي چې يو توانمند شخص د قرباني موضوع د چکونو به اخيستل ترسره کړي ترڅو هم خپل اهل او کورني ته مرسته وکړي او هم نيازمندو خلکوته.
همدارنګه مسلمان ته لازمه ده چې هغه خير کارونه ډير ترسره کړي چې په هغه کې ګټه ټولو خلکو ته رسيږي، صدقه ورکول دې ډير کړي ځکه چې وکولاي شي ددې پواسطه د فقير او بيوزلو خلکو د خوشحالۍ سبب وګرځي، او الله تعالى خپل بندګان نفقه او صدقه ورکولو ته هڅولي دي

لکه چې فرمايي:**« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لاَّ بَيْعٌ فِيهِ وَلاَ خُلَّةٌ وَلاَ شَفَاعَةٌ وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ » ژباړه:« اې مؤمنانو! څه مال شتمني چې مو درکړېده، له هغه څخه لګښت وکړئ، مخکښې له دې چې هغه ورځ راشي چې په هغې کښې به نه اخيستل او خرڅول وي، نه دوستي په درد خوري او نه به سپاربښت کار وکړي. او ظالمان په اصل کي هغه کسان دي چې د کفر لاره غوره کوي. »** او په حديث شريف کې راغلي دي: (په صدقه ورکولو سره هيڅ يو مال نه کميږي).

نو مونږ څومره مهرباني همبستګي او د يو بل احساس ته اړتيا لرو، ترڅو وکولای شو د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دغه وينا پرځان عملي کړو: مسلمان د مسلمان ورور دی، د هغه په حق کې ظلم نکوي، هغه دښمن ته نه پريږدي، او هغه څوک چې د خپل ورور اړتياوي پوره کړي نو الله تعالی به د هغه اړتياوي پوره کوي، څوک چې د يو مسلمان مشکلات حل کړي نو الله به د هغه د قيامت د ورځې مشکلات رفع کوي، او هغه څوک چې د يو مسلمان عيب او ګناه پټوي نو الله تعالی د هغه عيب او ګناه به د قيامت په ورځ پټ ساتي.، او په بل حديث کې فرمايي:په هر مسلمان باندي صدقه واجبه ده، وويل شو: ای د الله رسوله! او که څوک څه پيدا نکړي څنګه؟ وفرمايل: خپل په لاس دی کار وکړي او وګټي او نورو ته دی صدقه ورکړي، وويل شو: او که ګټل يي نشو څنګه وکړي؟ وفرمايل: يو نيازمند شخص سره دی مرسته وکړي، وويل: که پيدا يی نکړ؟ وفرمايل: نو د نيک کار ترسره کړي او د شر او بديو نه دی ځان وساتي، دا کار د هغه لپاره صدقه دی.

**ای الله! مونږ سره خپل د ذکر، شکر او نيک عبادت کولو کې مرسته وکړه.**